# په افغانستان کې د ټاکنو په اړه د عامه پوهاوي او له ټاکنو څخه د زده شوي درسونو په اړه نظر پوښتنه

بنسټیزې موندنې



کب ۱۳۹۳

دغه خپرونه د امریکې متحده ایالاتو د پرمختیا نړیوالې ادارې له خوا د بیاکتنې په موخه خپره شوې او د دموکراسی انټرنشنل سازمان له خوا چمتو شوې.

Democracy International, Inc.
7600 Wisconsin Ave Suite 1010
Bethesda, MD 20814
د اړیکو شمېره : 301-961-1660
www.democracyinternational.com

# په افغانستان کې د ټاکنو په اړه د عامه پوهاوي او له ټاکنو څخه د زده شوي درسونو په اړه نظر پوښتنه

بنسټیزې موندنې

کب ۱۳۹۳

**مسؤلیت نه منل**
په دې خپرونه کې د لیکوالانو راغلي نظریات په هېڅ ډول د امریکې ایالتونو د نړیوالې پرمختیا ادارې او امریکې ایالتونو د حکومت نظریات نه رانغاړي.

# لړلیک


| | | |
|---|---|---|
| 1.0 | پيژندنه | 1 |
| 2.0 | د افغانستان نقشه | 2 |
| 3.0 | بنسټيزې موندنې | 3 |
| 4.0 | د ځيرنې تګلاره | 5 |
| 5.0 | عمومي موضوعات | 8 |
| 6.0 | ولسواکي او بنسټونه | 9 |
| 7.0 | د ټولټاکنو په اړه موضوعات | 9 |
| 8.0 | په ټاکنو کې ګډون | 10 |
| 9.0 | عامه پوهاوی | 14 |
| 10.0 | په هيواد کې سياسي وضعه | 18 |
| 11.0 | ډيموګرافي | 19 |
| 12.0 | پايله | 21 |
| 13.0 | الف ملپاته: د سروې وسايل | الف-1 |
| 14.0 | ب ملپاته: د معلوماتو جدول | ب-1 |

# 1.0 پېژندنه

په ۱۳۹۳ کال کې د افغانستان ولسمشريزې او ولايتي شوراګانو ټاکنې تر سره شوې، چې په پايله کې يې د ملي يووالي د حکومت په ترڅ کې ډاکټر اشرف غني د ولسمشر او ډاکټر عبدالله عبدالله د اجرائيوي رييس په توګه وټاکل شول. په ۱۳۸۰ کال کې د طالبانو له راپرزېدو وروسته دا پنځمې ټاکنې دي چې د لومړي ځل له پاره په يوه قانوني چوکاټ کې تر سره شوې، چې دا چوکات د ولسمشريز فرمان په بنسټ نه، بلکې د يوه ولسواک قانوني بهير په ترڅ کې رامنځته شو.

د ۱۳۹۳ د ورې په ۱۶ نېټه ولسمشريزې او ولايتي شوراګانو ټاکنې، د غبرګولي په ۲۴ د ولسمشريزو دويم پړاو ټاکنې او د اوو اونيو په ترڅ کې د دويم پړاو ټاکنو د ټولو اچول شوو رايو بشپړه شمېرنه او تفتيش د ټاکنو شپږ مياشتنی ټاکنيز بهير ګټل کېږي. دغه ځنډېدلی بهير چې د ټاکنيزو درغليو او سياسي بن بست اړونده سختې ادعاوې يې رابرسېره کړلې، چې په پايله کې يې په هېواد کې د حکومت د راتلونکې په اړه ترددد رامنځته کړ. ټاکنې؛ د نوماندانو د مذاکراتو په ترڅ کې د ملي وحدت حکومت په رامنځته کېدو پای ته ورسېدې. محمد اشرف غني او عبدالله عبدالله د ملي وحدت حکومت رامنځته کېدو تړون د ورې مياشتې په ۲۹ لاسليک کړ، چې اصول او بنسټيز تعهدات يې رانغښتل او همدارنګه ولسمشرمحمد اشرف غني د د تلې په ۷ نېټه د لوړې مراسم تر سره کړل.

له ۱۳۸۸ کال را پدېخوا ډموکراسي انټرنېشنل (DI) د ټاکنو د بين المللي څارنې د ماموريت او همدارنګه د ټاکنيز سمون له پاره د کورنی يا داخلي عدالت غوښتنې له لارو د افغانستان د ټاکنيزو بهيرونو د ملاتړ په برخه کې دنده تر سره کړې. اوسمهال، DI د USAID د افغانستان د ټاکنيز سمون او عامه عدالت غوښتنې يا اډووکسۍ پروګرام (AERCA) تطبيقوي. د (AERCA) دوې بنسټيزې برخې عبارت دي؛ د ټاکنيز او ولسواک سمون په موخه د افغانانو په مشرۍ د عدالت غوښتنې يا اډووکسي هڅو ملاتړ او همدارنګه د سمون له پاره د مباحثې د رامنځته کېدو او هڅونې په موخه د څېړنو تر سره کول. دې مقاصدو ته د لاس رسي د ونډې اخيستنې په برخه کې، DI تر اوسه د افغاني ولسواکۍ په هکله د عامه نظرياتو ځينې ډېرې هر اړخيزه څېړنې تر سره کړې دي.

DI دغه سروې د ملي يووالي حکومت له تشکيل څخه وروسته په دې موخه تر سره کړه، چې برسېره پر ځينې نورو مسايلو د ولسواکۍ، ټولټاکنو، د هغو اغېزو او عامه پوهاوي ته لاس رسی او په سياسي بنسټونو په هکله د دوی باور معلوم کړي.

ډموکراسي انټرنشنل د دې راپور بنسټيزې موندنې د ۱۳۹۱ او ۱۳۹۲ کلونو د پخوانيو څېړنو له موندنو سره د پرتلنې له لارې د شونتيا تر بريده وړاندې کوي. د دې سروې موندنې افغاني او نړيوالې ټولنې ته د ولسواکۍ، ټاکنو او عامه پوهاوي اړونده موضوعاتو په برخه کې د راتلونکې ګډون په هکله معلومات وړاندې کړي.

دا راپور هغه موندنې وړاندې کوي چې په ملي کچه د عامه افکارو معلوملو په موخه د ډموکراسي انټرنشنل او د Soft Power Solution (SPS) له خوا په ګډه ترسره شوې. دا څېړنه د ۸۲ پوښتنو د سروې وسايلو په واسطه د هېواد په ۳۴ ولايتونو کې له ۴۰۲۰ تصادفي ډول ټاکل شوو کسانو څخه د ۱۳۹۳ کال د لړم له ۹ او د همدې کال د ليندۍ تر ۷ تر منځ ترسره شوې.

## 2.0 د افغانستان نقشه



# 3.0 بنسټیزې موندنې

- د ځواب ویونکو غوڅ اکثریت (۸۱،۶سلنه) په دې اند دی چې لږ تر لږه افغانستان په سم لور روان دی، چې نژدې د ټولو ځواب ویونکو نیمایي (۴۸،۱سلنه) خپل اند داسې څرګندوي چې افغانستان په سم لور روان دی. دا شمیره د ۱۳۹۱ کال را په دېخوا ۳۳ سلنه ډېروالی موندلی، چې په لږ وخت کې یو د پام وړ پرمختګ ښیي.
- کله چې وپوښتل شول چې ایا د ولسمشریزو ټاکنو پایلې د خلکو د ارادې ښکارندویي وي، د (۶۲،۱سلني) غوڅ اکثریت تایید کړه. سره له دې چې د حوزو په کچه ارقام په برابره توګه وېشل شوي وو مګر په سهیل او ختیځو حوزو کې لږ څه زیاته معلومېږي.
- ۲۸ سلنه ځواب ویونکي په دې اند وو چې د ۱۳۹۳ کال په ټاکنو کې تر ټولو لویه ستونزه د ټاکنو په خپلواک کمیسیون کې درغلي وه، د ۱۶،۶ سلني په اند د رای ورکولو د پاڼو کموالی ستره ستونزه وه، او ۱۵،۱ سلني په اند د رایي ورکوونکو لخوا درغلي تر ټولو لویه ستونزه وه.
- د ځواب ویونکو ګڼ شمېر (۶۷،۲سلني) په اند د ولسمشری د دویم پړاو ټاکنو د رایو تفتیش د ټاکنو پر پایلو د خلکو د باور په ډیریدو کې مرسته وکړه.
- ۵۷،۶ سلنه ځواب ویونکي په دې اند وو چې د قومیت پر بنسټ رایه ورکول د ۱۳۹۳ کال په ټاکنو کې نظر تیرو ټاکنو ته کم تر سترګو کېده.
- د سروې ګڼ شمېر (۵۳،۳ سلنه)ځواب ویونکو د داسې سیاسي نظام پلوي کوله چې په ترڅ کې یې داسې ولسمشر رامنځته کړي چې له یوه ټاکل شوي پارلمان سره کار وکړي تر څو په ګډه تصمیمونه ونیسي. شاوخوا درېیمه برخه (۳۵،۷ سلنه) ځواب ویونکو په اند وو چې باید یو پیاوړی ولسمشر وي، چې د پارلمان له مشورې پرته دې په خپلواکه توګه تصمیم ونیسي.
- د ځواب ویونکو غوڅ اکثریت (۹۲،۳سلنه) په اند ؤ چې، د پارلماني ټاکنو څخه وړاندې په افغانستان کې ټاکنیزو اصلاحاتو ته اړتیا شته، په داسې حال کې چې یواځې ۴ سلنه ځواب ویونکو ویلې چې ټاکنیزو اصلاحاتو ته اړتیا نشته.
- د ځواب ویونکو ۹۴ سلنه په ولسمشر غني تر یوې کچې او یا هم ډېر باور لري.
- یواځې ۱۹،۵ سلنه د ټاکنو پر خپلواک کمیسیون، او ۱۴،۹ سلنه د ټاکنیزو شکایتونو د اوریدو پر خپلواک کمیسیون باور لري، د هغو ځواب ویونکو کچه چې د ټاکنو پر خپلواک کمیسیون او د ټاکنیزو شکایتونو د اوریدو پر خپلواک کمیسیون باور نلري په ترتیب سره ۱۳،۵ سلنه او ۱۰،۹ سلنه له ۱۳۹۲ کال څخه را په دېخوا ډېروالی موندلی.
- پر طالبانو باور په تیرو څو کلونو کې په ثابته توګه کم شوی. په ۱۳۹۱ کال کې ۶۵ سلنه مرکه شویو څرګنده کړې وه، چې پر طالبانو باور نلري، چې دې شمېرې ته په کتو سره په ۱۳۹۲ کال کې ۷۱،۵ سلني او په ۱۳۹۳ کال کې ۸۶ سلني ته رسیدلې.
- له ۹۰ سلني ډیرو ځواب ویونکو په اند، ښځې پوره حق لري چې په ټاکنو کې ګډون وکړي او کولای شي خپله تصمیم ونیسي چې چاته رایه ورکړي. ډیری ځواب ویونکو (۷۵سلنه) په اند ښځې باید سیاسي ونډه ولري. د نارینه ځواب ویونکو کچه، په دې خبره کې نږدې د ښځینه ځواب ویونکو له کچې سره یو شان وه.
- په ۱۳۹۲ کال کې د سروې ۵۱،۱ سلنه ځواب ویونکو په ټاکنو کې د پوهاوي نه شتون د ښځو د نه ګډون په وړاندې یوه موضوع وبلله. په ۲۰۱۴ کال کې ۳۰سلنه ورته دلیلونه وړاندې کړي، او ښيي چې د عامه پوهاوي هغه هڅې چې ښځې ورنه برخمنې شوې، بریالۍ وې.
- په ۱۳۹۲ کال کې ۷۷ سلنه ځواب ویونکي موافق وو، چې په ټاکنو کې ګډون له اسلامي ارزښتونو او حکمونو سره اړخ لګوي. دا شمیره په ۱۳۹۳ کال کې ۸۶ سلني ته لوړه شوه.
- غوڅ اکثریت (۸۹،۷سلنه) څرګنده کړه، چې په خپله سیمه کې د ټاکنو په اړه د پوهاوي په برخه کې د خپلو خلکو په وړاندې د مسولیت احساس کوي، او ۸۲ سلنه بیا په دې باور وو چې د ټاکنو په اړه عامه پوهاوی باید یو دوامداره بهیر وي او له ټاکنو ورسته دې هم وغزېږي.
- د نسبي اکثریت (۴۰,۶ سلنه) ځواب ویونکو څرګنده کړه، چې د ۱۳۹۳ کال د ولسمشریزو ټاکنو په اړه تلویزیون د معلوماتو یو اغیزمنه سرچینه وه؛ خو بل خوا ۳۶,۲ سلنه ځواب ویونکو بیا ویل چې رادیو د معلوماتو د ورکولو اغیزمنه سرچینه وه.

# 4.0 د څېړنې تګلاره

د ټاکنو او عامه پوهاوي سره تړلو مهمو مسایلو په هکله د افغانانو په افکارو باندې په ښه توګه پوهېدل د اړونده سروې له موخو څخه ګڼل کېږي.

## پوښتنپاڼه

د ډموکراسي انټرنشنل څېړنيز ټيم د دې سروې د پوښتنو له تدوين څخه مخکې، په افغانستان کې د ټاکنيز عامه پوهاوي اړونده موضوعاتو په برخه کې د شته اسنادو د بيا کتنې یوه پراخه غونډه تر سره کړه. ډموکراسي انټرنشنل د ډیموګرافۍ اړونده ټولې ۸۲ پوښتنې چې زیاتره یې د تړلو ځوابونو درلودونکې وې را ټولې کړې. پوښتنپاڼه د ډیموګرافۍ له برخې پرته په شپږو اصلي موضوعي برخو وېشل شوې وه. (۱) هغه لوېې خواشينۍ چې د خلکو ورځنۍ ژوند اغېزمنوي (۲) د ولسواکۍ او سياسي بنسټونو اړوند فکري سلوک (۳) د ټاکنو په اړه فکري سلوک (۴) په ټاکنو کې ګډون (۵) عامه پوهاوی او (۶) د سياسي وضعيت په اړه فکري سلوک. پوښتنپاڼه په دري او پښتو ژبو وژباړل شوه.

## امتحاني ازمويل:

په سيمه کې د کار له پيل څخه وړاندې، ډموکراسي انټرنشنل د دې پوښتنپاڼې د انفرادي پوښتنو د روښانتيا او د هغو مسايلو د پيژندنې په برخه کې چې شايد د سروې څرنګوالی اغېزمن کړې، ډاډ تر لاسه کولو په موخه امتحاني ازموېل تر سره کړل.

ډموکراسي انټرنشنل په ټولیزه توګه ۳۲ پوښتنپاڼې په امتحاني ډول و ازموېلې، چې ۱۶ پوښتنپاڼې يې په لومړۍ او پنځمې ښاري ناحيو کې او ۱۶ نورې په بهزادي او غازي کليو کې چې په ترتيب سره د کابل ولايت د قره باغ او شکردرې ولسواليو پورې اړوند کلي دي، تر سره کړه. پوښتنپاڼه د امتحاني ازموينې د پايلو پر بنسټ اصلاح شوه. د سروې ترسره کېدو لپاره منځنی وخت ۵۰ دقيقې په پام کې نيول شوی ؤ.

## بېلګه اخيستنه

د افغانستان د مرکزي احصايې د ادارې (د افغانستان د ۱۳۹۲-۹۳ احصایوي کالنۍ) پر بنسټ د افغانستان د وګړو ۴۸،۰۵ سلنه تر ۱۸ کاله او يا تر هغې ډېر عمر لري. د شاوخوا ۱۲،۷۶۰،۷۱۴ ځوانانو له ډلې د بېلګې په توګه ۴۰۲۰ تنه د ±1.55% د تېروتنې ضريب، ٪۹۵ د اعتماد کچې او ٪۵۰ د ځوابونو د وېش اټکل په نظر کې نيولو سره، د سروې له پاره ټاکل شوي دي.
د ولايتونو په کچه د تېروتنې د ضريب د ټيټېدو په موخه، ډموکراسي انټرنشنل د بېلګې اخيستنې له نسبتي تګلارې څخه کار اخيستی چې طبقه بندي يې د ولاياتو د نفوس، ښاري وېش، سيمه ييز وېش او جنسيت پر بنسټ تر سره شوی او د د افغانستان د ۱۳۹۲-۹۳ احصایوي کالنۍ د وګړو له رسمي شمېرو څخه يې د مرجع په توګه ګټه اخيستې ده.

### نارينه/ ښځينه

| جنسيت | د ډي آی سروې % | مرکزي احصائيه % | توپير % |
|---|---|---|---|
| نارينه | 50.3 | 51.7 | -1.4 |
| ښځينه | 49.7 | 48.3 | 1.4 |
| مجموع | **100** | **100** | |

سرچينه: د مرکزي احصايې اداره (CSO)، د افغانستان اسلامي جمهوري دولت.د ۱۳۹۳ کالنی شمېرې

### ښاري / کليوال

| ښاري / کليوال | د ډي آی سروې % | مرکزي احصائيه % | توپير % |
|---|---|---|---|
| ښاري | 24.4 | 23.9 | 0.5 |
| کليوال | 75.6 | 76.1 | -0.5 |
| مجموع | **100** | **100** | |

سرچينه: د مرکزي احصايې اداره (CSO)، د افغانستان اسلامي جمهوري دولت.د ۱۳۹۳ کالنی شمېرې

* نږدې ۱،۵میلیونه کوچیان په افغانستان کې شتون لري چې دا شمیره په دې ارقامو کې نه ده شامله شوې.

په ټولیزه توګه د بېلګې اخیستنې ټول ۴۰۲ ټکې توزیع شوې، چې په هره امتحاني نقطه کې ۱۰ مرکې تر سره شوې. ښاروالي یا د ښاروالۍ اداره، ښاري نفوس هغه ته وایي چې د ښاروالۍ په محدوده (ناحیو) کې اوسېږي. کلیوال نفوس له هغو خلکو څخه رغېدلی چې له ښاري محدودې نه د باندې ژوند کوي. کلیوالي سیمې، نه د نفوس د ګڼوالي او نه هم د لیرې والي له مخې تعریف شوې. په کلیوالي سیمو کې د بېلګې اخیستنې هر ټکی له یوه کلي څخه استازیتوب کوي. په ټولو ولایتونو کې د بېلګې اخیستنې ټکي په برابره توګه د ښځینه او نارینه وو ځواب ویونکو تر منځ وېشل شوي، چې د جنسیت(جنډر) موضوع له خپله ځواب ویونکو څخه د عین جنسیت له لورې تر سره شي تر څو اسلامي او افغاني کلتور پکې په پام کې ونیول شي.

د سروې طبقه بندي د بېلګې اخیستنې دا لاندې پلان رانغاړي:

1) **ولایت په کچه:** په نوموړي ولایت کې د شته نفوس په تناسب بیلګه اخیستنه.
2) **ښاري– کلیواله کچه :** د هر ولایت د کلیوال او ښاري نفوس په تناسب بیلګه اخیستنه.
3) **ولسوالی کچه:** په هر ولایت کې د ولسوالیو د شمیر په تناسب تصادفي ټاکل.
4) **د ننه ولسوالی کچه:** په هرې ولسوالی کې د بیلګې اخیستنې تصادفي ټاکل.
5) **د جنسیت (جندر) پر بنسټ ویش:** په هر ولایت کې د جنسیت د تناسب، نسبت ۱:۱ دی.

## مرکې

د سیمې په کچه ټول کارکوونکې د Soft Power Solutions (SPS) له لورې چې یوه افغاني څېړنیزه موسسه او د دې سروې لپاره د ډموکراسي انټرنیشنل قراردادي دی ګمارل شوې ده. په ټولیزه توګه ۱۴۳ مرکچیان چې ( ۷۲ نارینه او ۷۱ ښځینه) دي په کار ګمارل شوي. ډموکراسي انټرنشنل د څرنګوالي د کنټرول لپاره ۳۶ کارکوونکي ګمارلي ترڅو د سیمې په کچه د دې سروې څرنګوالی وڅاري. په هر ولایت کې لږ تر لږه د څرنګوالي د کنټرول یو امر ګمارل شوی. د شمېرو را ټولول د ۱۳۹۳ کال د لړم له ۹ نیټې څخه پیل او د همدې کال د لیندی په ۷ نیټه پای ته ورسیدل.

## د کورنیو ټاکل

د بېلګې اخیستنې په هرټکې کې، مرکچیانو او د ټیمونو مشرانو په سیمه کې له مشهورې برخې لکه بازار، مکتب یا مسجد څخه د سروې د پیل د ټکي په توګه کار اخیستی. په ښاري سیمو کې، مرکچیان په ټاکل شوي مسیر حرکت کړی او بنې لاس ته په دریمه کوڅه کې دریدلي او لمړنی کور یې په تصادفي ډول ټاکلی.

په دې تګلاره کې د کورونیو د ټاکلو لپاره سیستماتیکه تصادفي بېلګه اخیستنه د کورونیو د ټاکلو په موخه کارول شوې ده. البته د ټولو کورونیو شمېر د بېلګې پر واحد (۱۰ پوښتنپانو) وېشل شوی او د پیل ټکی یې په تصادفي ډول ټاکل شوی. په هغو سیمو کې چې له سلو څخه زیاتې کورنی په کې وجود ولري، یو ټاکلی واټن (۱۰ کورنی) د بېلګې اخیستنې وېش په کې تر سره کېږي. په همدې ډول په کلیوالي سیمو کې هم مرکچي د ټاکلي ټکي له پیل څخه ښی لور ته وګرزېد او دریم کور یې وټاکه.

## د ځواب ویونکو ټاکل

مرکچیانو د کورنی په کچه د ځواب ویونکو د تصادفي ټاکلو په موخه د کِش ګرېډ له سیستم څخه ګټه پورته کړه، تر څو بېلابېلو سني ټولګو ته رسېدنه وشي او یوازې د کورنی له مشرانو سره د مرکې مخنیوی وشي. د کِش ګرید جدول او په اړه یې توضیحات د پوښتنپاڼې په لومړی پاڼه کې د مرکچي لپاره اضافه شوې تر څو له هغوی سره د ځواب ویونکو په ټاکلو کې مرسته وکړي. د ځواب ویونکو د بدلولو (تعویض) لپاره یواځې د کِش ګرېډ د جدول پر بنسټ اجازه ورکړل شوې. مرکچي ته اجازه ورکړل شوې وه چې که چیرې ټاکل شوی ځواب ویونکی ګډون نه کوي او یا لاس رسی ورته نه کېږي، یعني چې په درې ځله هڅو سربېره و نه توانېږي، چې ټاکل شوی تن پیداکړي، نو ښې لاسته بل کور ته دې ورشي. د سیمه ییز کار په بهیر کې ۹۶،۲ سلنه مرکې په لومړی ځل، ۳،۴ سلنه په دویم ځل او ۰،۴ سلنه په دریم ځل کې تر سره شوې دي.

## د کیفیت (څرنګوالي) کنټرول

له سیمې څخه د لاسته راغلو معلوماتو د پیاوړتیا له پاره، ډموکراسي انټرنشنل په ټولو ولایتونو کې د سیمه ییز کار د څارنې په موخه د څرنګوالي د کنټرول یو ۳۶ کسیز ټیم په دنده وګماره. د څرنګوالي د کنټرول ټیم د کورنیو د سروې ۳۴،۸ سلنه د مستقیمو کتنو له لارې تر سره کړې. نږدې ۴۴،۱ سلنه بشپړې شوې پوښتنپاڼې د ډاډ تر لاسه کولو په موخه هغو کورنیو ته ولیږدول شول چې په اړه یې اندېښنې موجودې وې. همدارنګه د څرنګوالي د کنټرول مسؤلانو ۱۰ سلنه بشپړې شوې پوښتنپاڼې د معیاري بیا کتنې فورمونو (Standard Back-check Form) له لارې له سره وکتل شوې.

## سنجونه او د اطلاعاتو څېړل

د اطلاعاتو وروستی ټولګه د یوه درجه لرونکي الګوریتم په کارولو سره وسنجول شوه، تر څو د نفوس له ملي پارامېټرونو سره سمون وخوري. دغه الګوریتم د ولایت د نفوس د اندازې، د ښاري او کلیوالي وېش او جنډر له مخې په لیکو ووېشل شو.

## د څېړنې ټیم

د ډموکراسی انټرنشنل مؤسسې د څېړنې ټیم د افغان او بهرنیو کارکونکو څخه جوړ چې په کابل کې په دنده بوخت دي. جد اوبر، ډاکټر سیلویا شوشنج، نیومی راسموسن، سید یاسین حسینی، سید اختر، فوزیه رحیمی جمال، محمد حسن وفایی، محمد خالد شینواری او محمد نبیل صادقی یې د ټیم غړي دي.

## 5.0 عمومي موضوعات

د غوڅ اکثریت (۸۱،۶ سلنه) ځواب ویونکو په اند، افغانستان تر یوې کچې په سم لور روان دی. همدارنګه نږدې نیمايي (۴۸،۱ سلنه) ځواب ویونکو د څرګندونو له مخې، افغانستان په سم لور روان دی.

دا شمېره له ۱۳۹۱ کال را پدېخوا ۳۳ سلنه لوړه شوې ده، چې په ډېر کم وخت کې د پام وړ ډېروالی ښيي. د ځواب ویونکو لویه برخه چې څرګنده کړې یې ده چې افغانستان په سم لور روان دی او یا تر یوې کچې په سم لور روان دی، په ختیځ افغانستان پورې اړه لري. په دې اړه چې ولې افغانستان په سم لور روان دی، یو پیاوړی د نظر اتفاق شتون نلري، مګر د ملي وحدت حکومت، ښه امنیت، د یو ښه او مشروع اساسي قانون درلودل او نړیوالې مرستې د سترو ذکر شوو دلایلو څخه وي. د هڅوني خبره دا ده چې، له نیمایي دیر ځواب ویونکو د افغانستان اقتصادي وضعه او د خپل ژوندانه وضعه "تر یو حده ښه " توصیف کړې چې دا شمېرې د حوزو تر منځ تر یو حده ورته یا دیر ورته دي.

د ځواب ویونکو زیات اکثریت (۲۶،۵سلنه) په تېره لسیزه کې د تعلیم او تحصیل لاسته راغلو آسانتیاوو ته د بریالیتوب په سترګه ګوري. ورپسې د ځواب ویونکو ۱۵ سلنه فکر کوي چې سوله او امنیت یو لوی بری دی چې افغانستان په تېره لسیزه کې تر لاسه کړی، چې د قومونو او حوزو تر منځ دواړه تمایلات ثابت دي. د تعجب وړ نه وه چې ډیری سلنه چې په دې باور وو چې په تېره لسیزه کې لاسته راغلي سوله او امنیت یو لوی بری وه، د افغانستان مرکزي او شمالی حوزو پورې اړوند وو، چې پلازمینې ته نژدیوالی او بهرنیو پراخه فعالیتونو د دوی فزیکي امنیت ته یوه لویه ګټه رسولې وه. له لسمي برخي لږې سلنې ویلي چې ټاکنې په تیرو لسو کلونو کې تر ټولو لویه لاسته راوړنه وه او همدارنګه د اکاډمیکو او نړیوالو اندونو پر خلاف برسېره، نږدې هیڅ یو له ځواب ویونکو څخه باور نلري چې په تېرو لسو کلو کې د ښځو د حقوقو په وضعه کې دې ښه والی یوه لاسته راوړنه وي.

زیاتره (۲۶،۹ سلنه) ځواب ویونکي وایي چې د چارواکو لخوا ترسره کېدونکی اداري فساد، تر ټولو لویه ستونزه ده چې افغانستان ورسره مخ دی. ورپسې ۱۹،۲ سلنه بیا وایي چې امنیت، تاوتریخوالی، او تروریزم لویه ستونزه ده. ۱۶ سلنه ځواب ویونکي بیا د حکومت ضعیف صلاحیت د لویې ستونزې په توګه ښيي. د افغانستان په مرکزی مرتفع او سهیل ختیځ حوزو کې ځواب ویونکو اداري فساد تر ټولو لویه ستونزه ګڼلې . په ختیځ حوزې کې چې تاوتریخوالی پکې ډیر دی، تر نورو ډېر تروریزم او تاوتریخوالی ستره ستونزه ګڼلې. د ځواب ویونکو لږه برخه ټيټ اقتصاد او بېکاري د لویې ستونزې په نوم یاده کړې، مګر زیاتره بیا د دوی له پاره د دویمې بنسټیزې اندېښنې په سترګه ګوري، دا ښيي چې سره له دې چې اقتصاد د یوې بنسټیزې ستونزې په توګه افغانانو ته پاتې دی، مګر دوی بیا هم خوشبینه دي.

غوڅ اکثریت (په ترتیب سره ۷۸،۴٪ او ۷۶،۱٪) وایی چې نظر تیرو ۵ کلونو ته او په ځانګړي توګه نظر تیرو ۱۵ کلونو ته (کله چې طالبان په واک کې وو) له اقتصادي پلوه ځانونه ښه احساسوي. د سهیل حوزې څخه یو شمېر ځواب ویونکي چې نظر تېرو ۱۵ کلونو ته له اقتصادي پلوه ځانونه ښه احساسوي، نظر نورو حوزو څخه لږ دي ( ۶۰،۳ سلنه د افغانستان په سهیل او ۸۱،۷ سلنه په نورو ۷ حوزو کې). په ورته ډول، یو شمېر ځواب ویونکي چې نظر تېرو ۱۵ کلونو ته له اقتصادي پلوه ځانونه لږ ښه احساسوي د هېواد سهیل حوزې پورې تړاو لري. د ځواب ویونکو غوڅ اکثریت ویلي چې د دوی په سیمه کې او په ټولیزه توګه په ټول هېواد کې امنیتي شرایط نظر تېرو ۱۲ میاشتو ته یو ډول پاتې شوي او یا هم ښه شوي.

کله چې له هغوی نه پوښتل شوي چې په راتلونکي کال کې به امنیت څنګه وي، د مرکه شویو ۵۳،۸ سلنه وړاندوینه کړې چې ښه به شي او یواځې ۸ سلنه وړاندوینه کړې چې امنیتي وضعه به خرابه شي. په داسې حال کې چې، د ځواب ویونکو لږه کیو (۲۲،۸سلنه) ویلي چې د دوی امنیتي وضعه د تېر کال په پرتله خرابه شوې ده، چې دا شمېرې نظر ۱۳۹۲ کال ته ۸،۵ سلنه زیاتوالی ښيي. شمیرې ښيي چې په تېرو څو کلونو کې ټيټ اقتصاد، متردد امنیت او شته ټاکنیزې ستونزې له مهمو ننګونو څخه دي، خو بیا هم افغانان په پراخه کچه د هېواد راتلونکي ته امیدواره پاتې شوي دي.

## 6.0 ولسواکي او بنسټونه

کله، چې د ځواب ویونکو څخه وپوښتل شول، چې آیا دوی د هېواد په کچه په بېلابېلو بنسټونو باور لري که نه؟ د دې پوښتنې په ځواب کې یو ګڼ شمېر ځواب ویونکو داسې وویل، چې دوی د مرکزي یا ملي بنسټونو چې زیات د یادولو وړ یې د ټاکنو خپلواک کمیسیون، د ټاکنو د شکایاتو کمیسیون، پارلمان او سیاسي ګوندونو په پرتله په سیمه ییزو بنسټونو لکه (د کلي مشر، دیني مشر، والیانو او پولیسو) زیات باور لري.

د ټاکنو د مدیریت کولو ادارو رضایت په ځانګړې توګه ټیټ دی، چې یوازې ۱۹،۵سلنې وویل، چې دوی د ټاکنو په خپلواک کمیسیون او ۱۴،۹ سلنه د ټولټاکنو د شکایاتو په کمیسیون زیات باور لري.

په IEC او IECC باندې لږ یا نه باور کچه په تېرو څو کلونو کې په ثابت ډول یو شان ده، سره له دې چې د رپوټ په بنسټ په هغو ځواب ویونکو شمېر یا اندازه، چې په IEC او IECC یې هېڅ باور نه درلود لږ تر لږه د ۱۳۹۲ کال راهیسې په ترتیب سره ۱۳،۵ سلنه او ۱۰،۹ سلنه زیاته شوېده.

په داسې حال کې چې د سیمه ییزو یا مرکزي بنسټونو په پرتله په سیمه ییزو بنسټونو باندې د باور میلان په تېرو کلونو کې په مناسب ډول په ثابت حال پاتې شوی مګر دا پدیده په هرځای کې واقعیت نه لري. ډېری ځواب ویونکو په ولسمشر ډاکټر غني باندې ډېر زیات باور څرګند کړ. ۹۴ سلنه ځواب ویونکو د رضایت کچه د هغه ځواب ویونکو چې یو څه یا زیات باور لري په نوي ولسمشر د افغانانو باور د نوي حکومت په هکله خوشبیني څرګندوي ، سره له دې چې د هغو بنسټونو چې د ټولټاکنو مدیریت کوي د باور کچه ټیټه ښودل شوې.

د یاغي ډلو او ملي پوځ د شخړې په هکله دغه سروې په زړه پورې او هڅونکي معلومات وړاندې کړي. ډېری ځواب ویونکو (۹۶سلنه) ښوولې، چې دوی په افغان ملي پوځ باور لري په داسې حال کې چې یوازې ۱۰ سلنه ځواب ویونکو ویلي، چې دوی په طالبانو باندې باور لري. په طالبانو باندې باور په ثابت ډول په تېرو څو کلونو کې راټیټ شوی. ۶۵ سلنه ځواب ویونکو په ۱۳۹۱ کال کې ویلي وو، چې دوی په طالبانو هېڅ باور نه لري، چې دا د ۱۳۹۲ کال په پرتله چې ۷۱,۵ سلنې ویلي وو، چې دوی پر طالبانو باور نه لري او په ۱۳۹۴ کال کې دغه شمېرې چې پر طالبانو باور نه لري ۸۶ سلنې ته لوړې شوی دی. پر طالبانو د باور نه شتون په ټولو سیمو او قومونو کې یو شان ښودل شوی دی. د ځواب ویونکو لوړ اکثریت په ټولو سیمو او قومونو کې (تر۸۰ سلنې زیات ) ویلي، چې پر طالبانو باندې باور نه لري.

د ولسواکۍ د تعریف په هکله یو غوښ اکثریت ځواب ویونکو (۴۳،۴ سلنه) ولسواکي د آزادۍ په ډول تعریف کړی. ۶۵ سلنه ځواب ویونکو داسې ښودلي، چې دوی یو څه یا په زیاته اندازه په افغانستان کې د ولسواکۍ له اړونده کارونو څخه خوښ دي، خو لس سلنه ځواب ویونکو په افغانستان کې د ولسواکۍ اړونده کارونو څخه خپله نا خوښي څرګنده کړې ده. په زړه پورې خبره دا ده، چې د ځواب ویونکو شمېر، چې د ولسواکۍ څخه یو څه یا په زیاته کچه خوښ دی په لوستو یا باسواده ، د ښتمنو او غیر ښتمنو او بېلابېلو سیمو اوسیدونکو په منځ کې په پراخه کچه یو شان دي. دا ښیي، چې د ولسواکۍ د کړنو په اړه خوښي په قوي توګه شتون لري.

## 7.0 د ټولټاکنو په اړه موضوعات

کله چې وپوښتل شول، چې د ټولټاکنو د ترسره کولو د ارزښت درجه وټاکئ، چې څنګه کولی شي د حکومتدارۍ، امنیت او د ژوند د کیفیت اړونده موضوعات رفع کړي، د ځواب ویونکو ډېری سلنې وویل، چې ټولټاکنې په افغانستان کې د خورا ښې او خوندي راتلونکي د جوړولو لپاره ډېر ارزښت لري. ځواب ویونکو وویل، چې اعتبار لرونکي ټاکنې د افغانانو لپاره د اقتصادي هوساینې، خوندي راتلونکي، د فساد له منځه وړلو، د ښو حکومتي خدمتونو وړاندې کولو، د ملي روغې جوړې د پر مخ بېولو او د قوي ټولواکۍ اړوند لارو چارو لپاره خورا مهم ګام بلل کېږي.

د ځواب ویونکو احساس د اعتبار لرونکو ټاکنو د ارزښت په اړه، چې د فساد په ضد مبارزه وکړي ډېر اوچت و، خو د دوی احساس د اعتبار لرونکو ټاکنو په هکله چې د ولسواکۍ د لارو چارو ته پراختیا ورکړي ټیټ وو.

دغه پایلي ښيي، چې د افغانانو په اند اعتبار لرونکي ټاکنې په هېواد کې د حکومتدارۍ او امنيت د سمون لپاره مهمه وسيله ګڼل کېږي.

د ځواب ويونکو غوڅ اکثريت (۶۹،۱سلنه) لږ تر لږه  په افغانستان کې د ټولټاکنو له کړنو څخه راضي دي. د ځواب ويونکو د داسې احساس لرونکو اکثريت چې په ټولټاکنو کې برخه اخيستل د ټولو افغان اتباعو مدني وجيبه ده، خو له (۴۰ سلنه ) لږ ځواب ويونکو ځواب دا و، چې دا د دوی شخصي مسؤليت دی. په ۱۳۹۲ کال کې د ځواب ويونکو ۷۷ سلنه په دې موافق وو، چې په ټاکنو کې برخه اخيستل د اسلامي زده کړو او ارزښتونو سره سمون لري او دغه اندازه په ۱۳۹۳ کال کې ۸۶ سلنې ته لوړه شوه.

زياتره ځواب ويونکي د دغې خبرې سره موافق نه وو، چې په ټاکنو کې برخه اخيستل يوازې د نارينه وو مسؤليت دی او نه دوی د دې احساس درلود، چې دغه مسؤليت يوازې د کابل اوسيدونکو پورې محدود دی. له ۹۰سلنې ډېر ځواب ويونکو په دې باندې باور درلود، چې ښځې حق لري، چې په پوره ډول په ټاکنو کې برخه واخلي. دوی بايد همدا راز تصميم ونيسي چې چاته رايه ورکړي. زياتره ځواب ويونکي (۷۵سلنه) په دې اند دي، چې ښځې بايد په سياست کې په زياته توګه برخه واخلي. نارينه ځواب ويونکو چې ښځې بايد په سياست کې برخه واخلي د ښځينه ځواب ويونکو سره نژدې په يوه نظر وو. د نارينه ځواب ويونکو  ۷۰،۳ سلنې لږ تر لږه په دې خبره موافق وو او فقط د نيمايي څخه ښکته سلنې چې په سياست کې د ښځو د نيابتي برخې اخيستنې پلوي يې کوله د نارينه ځواب ويونکو څخه عبارت وو.

د ځواب ويونکو (۶۲ سلنه) په افغانستان کې نا امني، په ټاکنو کې د ښځو د برخې اخيستلو په مخه کې لوی خنډ بللی. د ځواب ويونکو ۴۰ سلنه باور لري، چې د کورنۍ غړي په ټاکنو کې د ښځې د برخې اخيستلو څخه مخنيوی کوي، خو ۳۰ سلنه د ځواب ويونکو په دې اند وو، چې د ټاکنو په هکله د معلوماتو نشتون په ټاکنو کې د ښځو د برخې اخيستنې د مخنيوي خنډ ګرځي . په ۱۳۹۲ کال کې د ځواب ويونکو ۵۱،۱ سلنې د ټاکنو په هکله د خبرتيا نه شتون په ټاکنو کې د ښځو د ونډې اخيستلو د مخنيوي د خنډ په توګه ذکر کړ، چې دا ښيي ، چې د ښځو لپاره د ټاکنو په هکله د عامه پوهاوي هڅې د برياوو لامل ګرزېدلې دي.

## 8.0 په ټاکنو کې ګډون

د دې برخې موندنې دوه بېلابېل په زړه پورې ارزښتونه وړاندې کوي. افغانان په عامه توګه په دې اند دی، چې په IEC کې د فساد، د رای ورکوونکې درغلي او د راي پاڼو نشتون اساسي ستونزې ګڼل کېږي. دغه د ټولټاکنو د نظام په اړه بنسټيزې ستونزې ګڼل کېږي. سره له دې چې افغانان د ملي يووالي په حکومت او ولسمشر غني لوړ باور لري نو دوی د ټاکنو پايلو ته په مشروعيت قايل دي او په دې اند دي، چې ټاکنې او د دوی رايه ارزښت لري او دوی پلان لري، چې په راتلونکو ټاکنو کې به برخه اخلي. داسې ښکاري چې افغانان د کړنلاروو، بنسټونو اړونده او نورو فزيکي ننګونو پېژندنې، چې د تېرو لنډو ټاکنو د پروسې په موده کې موجودې وې، څو دوی د ټاکنو له پايلو څخه خوښ دي او په دې باور لري، چې ټاکنې او د دوی رايه د دې وړتيا لري، چې په مثبت بدلون باندې به اغيزه وکړي.

دوه اتيا سلنه ځواب ويونکو وويل، چې دوی د رايې کارت اخيستی او نومونه يې ثبت کړي دی. د ځواب ويونکو لږ شمېر چې د رايې ورکولو لپاره يې نومونه ثبت کړي وو، د جنوبي سيمو څخه وو. سره له دې چې د جنوبي ځواب ويونکو زياتره برخې د رايې ورکولو لپاره نومونه ثبت کړي وو. د ټولو هغو څخه چې په ملي کچه يې نومونه ثبت کړي وو، دريېمې برخې د دې تصميم لري، چې نومونه ثبت کړي، دريېمه برخه يې نه غواړي چې نومونه ثبت کړي او يا يې دريېمه برخه هېڅ تصميم نه لري، چې نومونه ثبت کړي که نه.

د هغو ځواب ويونکو لوړه سلنه، چې نومونه يې نه دي ثبت کړي او قصد نه لري، چې رايه ورکړي، له جنوبي سيمې څخه دي. د ښځو د نوم ليکنې شونتيا ډېره کمه ده او نږدې ۲۰ سلنه ده او ډېر لږ شونې ده، چې د ۱۳۹۴ کال د ټاکنو څخه د مخه نومونه ثبت کړي.

د ۷۰ سلنې څخه زيات ځواب ويونکو وويل، چې دوی د ۱۳۹۳ ټاکنو په دواړو لومړيو او دويمو دورو کې ونډه اخيستې ده، چې په دې کې د جنوبي سيمو څخه په کمه کچه په ټاکنو کې برخه اخيستې. د ښځو لپاره د نارينه وو په پرتله لږ شوي وو، چې ووايي، چې ايا دوی په ټاکنو کې برخه اخيستې.

.

له ۷۰ سلنی زیاتو ځواب ویونکو وویل، چې دوی د ۱۳۹۳ ولسمشریزو ټاکنو د رای ورکولو په دواړو؛ لومړنی او دویمې دورې کې برخه اخیستی ده، چې لدی ډلی څخه د جنوبی سیمې ځواب ویونکو وویل چې دوی په ټاکنو کې په ټیټه کچه برخه اخیستی وه. د ښځو لپاره د نرانو په پرتله لږ شونی وه چې ووایی چې دوی په ټاکنو کې برخه اخیستی وه او دا توپیر شل سلنه و. سره لدی چې دغه کچه د ټاکنو په دویم پړاو کې په لږ توپیر سره کم ؤ. جالبه دا ده چې د جنوبی سیمولږ شمیر او پښتنو ځواب ویونکو وویل چې دوی په دویم پړاو ټاکنو کې برخه اخیستی ده چې په دواړو حالتو کې دغه شمیره د تیروتنې له کربنی څخه بهر وه.

اگر چې دغه موندنی د ټاکنو د مستقیل کمسیون له هغې ادعا سره په ټکرکې دی چې د لومړی پړاو په پرتله په دویم پړاو ټاکنو کې یو ملیون زیاتو خلکو په ټاکنو کې برخه اخیستی ده ، دا په بشپړه توګه شوني ده چې ځواب ویونکو د ټولنیزې ملامتیا له کبله چې دوی رایه نه ده ورکړې ویلی وی چې دوی رایه ورکړی په داسی حال کی چې دوی رایه نه وی ورکړی.

د منلو ټولنیزه وړتیا یا تمایل درجی اغیزه په رایه ورکونکو باندی کیدای شی د ټاکنو په دواړو پړاوونو کی د رایه ورکوونکو د شمیر د زیاتوالی یا د شمېر د مبالغی سبب شوی وی.

دغه معلومات یا ډېټا کیدای شی د ولسمشر غنی د هغې ادعا سره مرسته وکړی چی په دویم پړاو ټاکنو کی د نوموړی سره د خلکو پراخ ملاتړ موجود ؤ. په لومړی پړاو ټاکنو کی زیاتره نوماندانان په ختّه پښتانه وو او زیاتره افغانانو چې دوی ته په لومړی پړاو کی رایې ورکړی وې، دا شونی ده چې نوموړو په دویم پړاو کی ولسمشر غنی ته رایه ورکړی وې.

سربېره پر دی، د ځواب ویونکو ۳۱,۳ سلنی ویل چی دوی هڅول شوی وو چی یو یا بل نوماند ته رایه ورکړی، ۷۱,۱ سلنه ځواب ویونکو ویل چی دوی هڅول شوی وو چی ولسمشر غنی ته رایه ورکړی چی د دی په پرتله ۶۳,۳ سلنی ویل چی دوی تشویق شوی وو چی ډاکتر عبدالله ته رایه ورکړي. دا ښیي چی د غنی کمپاین په اغیزمنه توګه زیاتو خلکو ته رسیدلی دی.




د ځواب ورکوونکو له ډلی څخه چی د کمپاین له خوا ورسره اړیکه نیول شوې، زیاتره د دوی له لویدیز افغانستان څخه ول. خلکو ته د ټاکنو د مبارزی په پایله کی رسیدل په مرکزی مرتفع، شمال او سهیل سیمو کی په ټیټه کچه کی ول.

د هغو ځواب ویونکو له ډلی څخه چی ورته رسیدنه شوی داسی ویل چی د دوی سره د رادیو او تلویزون له لاری تماس یا اړیکه نیول شوی (له ۵۰ سلنی څخه زیات په دواړو صورتونو کی) او یوازه ۱۰ سلنه سره د بریښنایی پیغامونو له لاری اړیکه نیول شوی. دا دغه واقعیت په ګوته کوی چی سیاسیون د سیالیو په مبارزو کی د اغیزمنو مخابراتی تکنالوژی څخه ګټه نه اخلی په داسی حال کی چی د GSMA، د نړیوال موبایل د معلوماتو د تحلیل ډله، له معلوماتو سره سم ۷۹ سلنه افغانان موبایلونه لري[1].

---

[1] GSMA Intelligence – Afghanistan Mobile and Communications data (subscription required) https://gsmaintelligence.com/markets/10/dashboard/




د دې سروې ځواب ويونکي د ۱۳۹۳ کال د ټاکنو د مشروعيت په اړه د دوی د درک له مخې ويشل شوي دي. يو غوڅ اکثريت چې ۴۲،۶ سلنه کيږي لدې سره چې پايلي يې قانوني وي څه ناڅه موافق، او ۲۴،۳ سلنه په بشپړه توګه موافق وو.۳۰ سلنه ځواب ويونکي د پايلو د مشروعيت په هکله تر يوحده مخالف وو. د تعجب وړ نه ده چې تر ټولو لويه برخه ځواب ويونکي چې د ټاکنو د پايلو د مشروعيت سره په کلکه مخالف وو د لويديځ او شمال ختيځ حوزو پورې تړاو درلود او لږ شمير يې د سهيل او ختيځ حوزو پورې اړوند وو. دغه يو ښکار او منطقي خبره ده چې د ډاکټر عبدالله ډيری ملاتړي د افغانستان په لويديځ او شمال ختيځ پورې تړاو درلود، په داسې حال کې چې د ولسمشر غني ولسي ملاتړ په سهيل او ختيځو حوزو کې وو. ځواب ويونکي د ولايتي شوراګانو د ټاکنو د پايلو د مشروعيت په اړه هم د دوی د درک له مخې ويشل شوي. کله چې پوښتل شوي چې ايا د ټاکنو پايلي د خلکو د هيلو سره سمي وي، ډيری (۶۲،۱ سلنه) دا خبره تائيد کړه. که څه هم چې ارقام په برابره توګه د حوزو په کچې تقسيم شوي ول، په سهيل او ختيځ حوزو کې لږ ډير وو. ښځو نظر ناړينه وو ته ډيره ليوالتيا درلوده چې ووايي د ۱۳۹۳ کال د ولسمشری او ولايتي شوراګانو د ټاکنو پايلې مشروع او قانوني وي او د خلکو د هيلو سره سم تر سره شوي.

د ځواب ويونکو غوڅ اکثريت د حوزو، جنډر، او يا توکم له مخي پرته له کوم ځانګړي توپيره باور لري او وايي چې رايه ورکونکي د ټاکنو په ورځ د دې وړتيا درلوده چې د رايو مرکزونو ته لاړ شي او خپله رايه وکاروي. همدارنګه ډيری ځواب ويونکو دا فکر نه کولو چې ځيني قومونه د په نا متوازنه توګه له ټاکنو پاتي وي. له ۱۳،۱ سلنه ځواب ويونکو څخه فکر کولو چې ځيني قومونه په نامتوازنه ډول په ټاکنو کې له ګډون څخه پاتي دي نسبي اکثريت په دې باور وو چې د پښتون قوم په ټاکنو کې له ګډون څخه لرې پاتي شوي وه.

کله چې د افغانستان په اوسني سياست کې د قوميت د ارزښت په اړه و پوښتل شول، ۳۴،۱ سلنه ځواب ويونکو ويلي وو مهمه نده او يا هم هيڅ مهمه نده، او ۶۱،۶ سلنه بيا ويلي وو چې مهمه ده او يا هم ډير مهمه ده. د قوميت په اړه په ځواب ويلو کې کوم مهم توپير وجود نه درلود، چې دا څرګندوي خلک په واقعي ډول په دې موضوع سره ويشل شوي دي، ترڅو يو ځانګړي قوم نظر نورو قومونو ته د قوميت له پلوه ډير ارزښت ورکړل شي. د ځواب ويونکو يو غوڅ اکثريت (۴۷،۳سلنه) باور لري چې خلکو د ولسمشری يو خاص نوماند ته د هغه د پاليسی د موقف له کبله رايه ورکړې، که څه هم د خلکو يوې مهمې برخې (۲۳،۸ سلنه) باور درلود چې د يوه ځانګړي نوماند قوميت هغو ته د رايي ورکولو ستر علت وه. ۵۷،۶ سلنه له مرکه شويو څخه باور درلود چې په ۱۳۹۳ کال ټاکنو کې د قوميت پر بنسټ رايه ورکول نظر تيرو ټاکنو ته ډير لږ بربښيده.

کله چې و پوښتل شول چې په ۱۳۹۳ کال ټاکنو کې تر ټولو ستره بريا څه وه، زيات اکثريت پکې مالوم نه شو. سره لدې هم يوشمير په زړه پوري استقامتونو ته يې لاره ومونده. د بيلګې په ډول، د ټاکنو يو شمير نړيوال کتونکي او څارونکي استدلال کوي چې د قدرت سوليزه ليږد د ټاکنو يوه ستره لاسته راوړنه وه، په داسې حال کې چې له ځواب ويونکو څخه يواځې ۴،۳ سلنه په دې باور وو چې د قدرت سوليزه ليږد يوه ستره لاسته راوړنه وه. نږدی ۱۲ سلنه ځواب ويونکو ويلي چې د ملي وحدت حکومت تر ټولو لويه لاسته راوړنه ده او کولای شو د ملي وحدت حکومت د قدرت د سوله يز ليږد استازيتوب وکړي مګر بياهم فيصدي يې ټيټه

ده.دوولس سلنه ځواب ویونکي پدې باور دي چې سوله او امنیت یوه لویه بریا ده، چې دغه موضوع دخلکو له عمومي درک سره دا چې د ټاکنو لپاره سم امنیت نیول شوی وو تراو لري.

کله چې په ټاکنو کې د لویو ستونزو په اړه و پوښتل شول، ځوابونه روښانه وو ، ۲۸ سلنه ځواب ویونکو فکر کاوه چې د ټاکنو خپلواک کمیسیون کې فساد د پام وړ لویه ستونزه ده، ۱۶،۶ سلنه فکر کاوه چې د رایي ورکولو د پاڼو کموالی وه، ۱۵،۱ سلنه په اند د رایه ورکوونکو درغلي، او تر ۱۰ سلنې لږ په دې فکر وو چې امنیت تر ټولو لویه ستونزه وه، مګر د پام وړ اکثریت (۳۸،۴ سلنه) وایي چې امنیتي ستونزې په ټاکنو کې د خلکو د ګډون پر وړاندې لوی خنډ ؤ.

۸۲ سلنه مرکه شوي کسان وایي په پآم کې لرو، چې په ۱۳۹۴ کال پارلماني ټاکنو کې ګډون وکړي، چې دا شمېره نظر ۱۳۹۲ کال ته چې ۸۴،۶ سلنه خلکو ویلی ول چې په ۱۳۹۳ کال ولسمشرۍ ټاکنو کې به ګډون وکړي؛ ډیر توپیر نلري. له سهیل حوزې څخه ځوابو ویونکو په راتلونکي ټاکنو کې د ګډون په اړه لږه شونتیا ښودلې ده، سره له دې چې غوڅ اکثریت (۶۶،۶ سلنې) ویلي چې رایه به ورکړي. لږ شمېر ښځو وویل، چې کولی شي په ۱۳۹۴ کال ټاکنو کې ګډون وکړي.




له ۱۲ سلنه هغو ځواب ویونکو څخه چې څرګنده کړې یې ده، چې په راتلونکو ټاکنو کې به رایه ونه کاروي،۳۰ سلنه یې کلتوري خنډونه او ۲۰،۹ سلنه کې ټاکنیزې درغلۍ په ټاکنو کې د نه ګډون لاملونه ښودلي دي. ۹۷ سلنه هغو کسانو چې کلتوري ستونزې یې په ټاکنو کې د ګډون پر وړاندې د خنډ په نوم یادې کړې، ښځې وې. د یادولو وړ ده، چې سره له دې چې د هغو ښځو ربښتینې شمېر چې کلتوري خنډونه یې د مسئلې په نوم یاد کړي؛ لږ دي (۳۰ سلنه له ټول ۱۲ سلنې ځواب ویونکو څخه)دغه شمېره به د واقعیتونو ربښتیني منعکس کوونکي نه وی، که چېرې ډېرو ښځو ادعا کړې وی، چې دوی به د منل شوي ټولنیز توپیر له مخې رایه اچولې وی نه د واقعي پلان له مخې.

د ۱۳۹۴ کال د رای ورکولو د سلوک له عمومي مثبتې بڼې سره موافق، ۷۸ سلنه ځواب ویونکو، وړاندوینه کړې چې د دوی په ګاونډ کې به ډیری خلک په راتلونکو پارلماني ټاکنو د رایي کارونې لپاره راووځي. له هغې لړې فیصدی څخه چې وړاند وینه یې کړې چې خلک به رایه ورنکړي، زیاتره د د ټاکنو پر بهیر یې د اعتماد نه شتون اصلي لامل بیان کړی اوبیا یې په عمومي توګه د سروې په ترڅ کې پر فساد ټینګار کړی. جالبه ټکی دا دی، چې د (۲۸،۵سلنه) غوڅ اکثریت ځواب ویونکو په اند د ۱۳۹۴ کال ټاکنو په وړاندې، امنیتي ستونزې تر ټولو لویه ننګونه وې. همدا ډول، کله چې وپوښتل شول، چې په ۱۳۹۴ کال ټاکنو کې د درغلیو د مخنیوي لپاره څه تدابیر ونیول شي؟ نو ۲۴،۴ سلنې ویلي، چې امنیت باید ښه شي.

جالبه ټکی دا دی چې، په داسي حال کې چې افغانان د ۱۳۹۳ کال د ټاکنو په وړاندې امنيتي ستونزې د نوروعمده ستونزو په لړ کې نه يادوي، زياتره په دې اند دي، چې د پام وړ لويه ستونزه به په ۱۳۹۴ کال ټاکنو کې امنيت وي. دا کېدای شي په بېلابېلو لارو روښانه شي. لومړی، که څه هم په ۱۳۹۳ کال ټاکنو کې امنيتي ستونزې د يوې لويې ستونزې په توګه درک شوې نه وه مګر تر اوسه هم د يوې عمومي اندېښنې په توګه باقي پاتې. همدارنګه شوني ده، چې ځواب ويونکي په دې باور وي چې پارلماني ټاکنې د تاوتريخوالي د رامنځته کېدو لامل شي. د ښځينه نوماندانو شتون او د پارلماني ټاکنو غير متمرکزه بڼه کيدای شي د نوماندانو او رايه ورکوونکو په وړاندې د تاوتريخوالي لپاره د فرصتونو او يا هم د اندېښنې لامل شي. په پای کې شوني ده، چې په بشپړه توګه د نړيوالو ځواکونو وتل د کورنيو جنګونو او ټاکنيزو تاوتريخواليو په اړه اندېښنې غښتلي کړي. دلايل هرڅه که وي، واضحه ده چې د امنيت په اړه اندېښنې به د راتلونکو پارلماني ټاکنو په وړاندې د يوې روښانه ستونزې بڼه غوره کړي.

کله چې د بيلابيلو ډلو ټپلو په اړه و پوښتل شول چې ايا د هغوی د ګډون هڅونه کوي او که يې مخه نيسي او يا يې نه هڅوي او نه يې مخه نيسي، ګڼ شمېر ځواب ويونکو، طالبان يواځينی ډله ښودلي چې په ټاکنو کې د هغوی ګډون بې زړه کوي. زياتره ځواب ويونکي نظر د دين عالمانو، دولتي چارواکو، د سياسي حزبونو رهبرانو، او پرمختيايي شوراګانو په پرتله د کورنی د غړو، رسنيو، د نوماندانو له کمپاينونو، د عامه پوهاوي د ټاکنيزو مبلغينو او د کلي/قومي مشرانو لخوا ټاکنو ته هڅول شوي. د نارينه ځواب ويونکو په پرتله لږو ښځينه وو ويلي چې د بېلا بېلو ډلو لخوا ټاکنو ته هڅول شوې. که څه هم، په دې برخه کې توپير شته چې ۱۶ سلنه ديني عالمان، ۱۳ سلنه د عامه پوهاوي مبلغين، ۱۲ سلنه د کلي او قوم مشران ښودل شوي.

د سروې موندنې ښيي چې، افغانان ټاکنو کې د ګډون لپاره ژمن دي او دا احساسوی چې د ټاکنو بهير د ټاکنيزو اصلاحاتو له لارې سمون ته اړتيا لري. ډيری ځواب ويونکي فکر کوي چې راتلونکي ټاکنې د افغانستان راتلونکي لپاره ډېرې مهمې دي او د دوی رايه به پر ټاکنو د پام وړ اغيز ولري. ډيری ځواب ويونکي په راتلونکو ټاکنو کې د ټاکنيزو درغليو د مخنيوي لپاره د امنيت تامينيدل، د هغو کسانو مجازات چې درغلي يې کړې او د ټاکنو د خپلواک کميسيون د چوکاټ سمول اړين بولي. برسېره پر دې ډيری ځواب ويونکي باور لري چې د ټاکنو په خپلواک کميسيون کې د ټاکنو لپاره د نوم ليکنې يو نوی سيستم، د ټاکنو په خپلواک کميسيون کې اصلاحات او د يو نوي ټاکنيز سيستم معرفي کول د افغانستان د راتلونکو ټاکنو د سمون په برخه کې مهم ګامونه ګڼل کېږي.

## 9.0 عامه پوهاوی

ډيری ځواب ويونکو (۶۹،۶ سلنه) ويلي، چې د ۱۳۹۳ کال له ټاکنو وړاندې يې لږ تر لږه د نوم ليکنې په اړه معلومات ترلاسه کړي دي. سره له دې چې، د پام وړ لږکيو (۲۷سلنه) ويلي چې هيڅ ډول معلومات يې د نوم ليکنې په اړه نه وو ترلاسه کړي. له سهيل ختيځ او مرکزي حوزو څخه ځواب ويونکو ويلي، چې ډېر ځله يې د يادې موضوع په اړه پرېمانه مواد ترلاسه کړي دي.

د سروې زياتره ځواب ويونکو ويلي، چې د ۱۳۹۳ کال د ټاکنو اړوندو بېلابېلو موضوع ګانو په اړه يې ځينې معلومات ترلاسه کړي. له ۸۰ سلنې ډېر ځواب ويونکو ويلي، چې هغوی د ۱۳۹۳ کال د ولسمشرۍ د نوماندانو په اړه له ټاکنو څخه مخکې معلومات تر لاسه کړي وه.

ډيری ځواب ويونکو د رای ورکولو د مرکزونو، د رای پاڼو د ډکولو طريقې، د اسلام او ټاکنو ترمنځ اړيکې او په سيمه کې د رای ورکوونکو او د ولايتي شوراګانو د نوماندانو د امنيت په برخه کې د تدابيرو نيولو په اړه معلومات تر لاسه کړي. لږ شمېر ويلي، چې دوی د سياسي ګوندونو او د ټاکنيزو شکايتونو د ثبتولو په برخه کې معلومات ترلاسه کړي.

په عمومي توګه ځواب ويونکو ويلي، چې دوی د ۱۳۹۲ کال په پرتله يې ډېر زيات معلومات ترلاسه کړي دي. د بيلګې په توګه په ۱۳۹۲ کال کې يوازې ۳۱،۱ سلنه ځواب ويونکو ويلي وو، چې دوی د رايي ورکوونکو د ساتنې په برخه کې د امنيتي تدابيرو په اړه معلومات تر لاسه کړي ، په داسي حال کې، چې په ۱۳۹۳ کال کې د دې شمېرې دوه برابره (۶۷،۵ سلنه) ويلي، چې د امنيتي تدابيرو په اړه يې معلومات تر لاسه کړي. په همدې ډول په ۱۳۹۲ کال کې ۴۲،۸ سلنه ځواب ويونکو ويلي، چې د رای ورکولو د ځايونو په اړه يې معلومات تر لاسه کړي. په ۱۳۹۳ کال کې ۷۶،۸ سلنې ويلي، چې دا ډول معلومات يې تر لاسه

کړي. د سروې ځواب ویونکو ویلي، چې د ۱۳۹۲ کال په پرتله په ۱۳۹۳ کال کې دوی د متصدي د (پالیسي، بریالیتوب او ناکامی)، د ټاکنیز شکایت د ثبت طریقې، د ټاکنو قانون، د بشري حقونو او سیاسي ګوندونو په اړه په زیاته کچه معلومات ترلاسه کړي.

که څه هم زیاتره ځواب ویونکو د ټاکنو په اړه عمومي معلومات تر لاسه کړي، هغوی د ولسمشرۍ د نوماندانو د کاري پلانونو او پالیسی په اړه لږ معلومات تر لاسه کړي وه.

د ځواب ویونکو یوغوڅ اکثریت (۳۵،۷ سلنه) وایي، چې د ۱۳۹۳ کال له ټاکنو وړاندې یې د ولسمشرۍ د نوماندانو د کاري پلانونو او پالیسی په اړه هیڅ ډول معلومات ندي ترلاسه کړي. د هېواد له شمال حوزې څخه همدا اوس ویل شوي، چې د ولسمشرۍ د نوماندانو د کاري پلانونو او پالیسی په اړه یې هیڅ ډول معلومات ندي تر لاسه کړي. سر له دې ۴۲،۹ سلنه هغه ځواب ویونکي چې هېڅکله ښوونځی ته نه دي تللي ویلي، چې د ولسمشرۍ د نوماندانو د کاري پلانونو او پالیسی په اړه یې هیڅ ډول معلومات ندي تر لاسه کړي. د لوړو زده کړو لرونکو ځواب ویونکو ویلي، چې پوره معلومات یې تر لاسه کړي. یوازې ۲۶،۳ سلنه ځواب ویونکو فکر کاوه، چې د ولسمشرۍ د نوماندانو د کاري پلانونو او پالیسۍ په اړه یې پوره معلومات تر لاسه کړي. هغه ځواب ویونکي چې هر ډول معلومات یې ترلاسه کړي د هغوی له ډلې یوازې ۸۴،۵ سلنې ویلي، چې دا معلومات تر یوې کچې یا ډېر ګټور وي، چې دا ښیي، چې په معلوماتو کې د څرنګوالي لپاره کومه ستونزه نشته، بلکې د معلوماتو لېږدولو برخه باید سمون ومومي.

د ۱۳۹۳ کال له ټاکنو وړاندې د سروې غوڅ اکثریت (۴۰،۶ سلنه) ځواب ویونکو ویلي، چې تلویزیون د ټاکنو په اړه د پوهاوی په برخه کې تر ټولو اغیزمنه سرچینه وه، د هېواد له مرکز، شمال او ختیځو حوزو څخه د ځواب ویونکو یوې لویې برخې ویلي، چې هغوی د ټاکنو په اړه معلومات د تلویزیوني پروګرامونو او تبلیغاتي اعلانونو له لارې تر لاسه کړي، تر ۳ سلنې لږ ځواب ویونکي بیا وایي، چې د ټاکنو په اړه معلوماتو لپاره ملا امامان یا ښوونکي، ورځپاڼې او نور چاپي نشرات، ملګري او خپلوان او د ټاکنو په اړه د پوهاوي لپاره غونډې تر ټولو ښې سرچینې دي. ۳۶،۲ سلنه له ځواب ویونکو څخه په ۱۳۹۳ کال کې بیا وایي، چې د ټاکنو په اړه د معلوماتو لپاره تلویزیون له راډیو څخه تر ټولو اغیزمنه سرچینه ده. یوه د پام وړ برخه (۳۵،۱سلنې) ویلي، چې د ۱۳۸۸ او ۱۳۸۹ ټاکنو څخه وړاندې د ټاکنو په اړه د معلوماتو لپاره راډیو له تلویزیونه تر ټولو زیاته اغیزمنه سرچینه وه. د ځواب ویونکو یوه کوچنۍ مګر مهمه برخې (۱۳،۲سلنه) ویلي، چې د ۱۳۸۸ او ۱۳۸۹ کلونو په ټاکنو کې د کلي مشران د معلوماتو ترلاسه کولو غوره سرچینې وې، چې دا شمېره په ۱۳۹۳ کال کې ۶،۹ سلنه وه. نږدې یو پر درېیمه برخه ځواب ویونکو (۳۰سلنه) ویلي، چې کله ناکله ټاکنیزو کارکوونکو دوی ته د ټاکنو په اړه معلومات ورکړي. ۲۹ سلنې ویلي، چې ډېر کم یې د ټاکنیزو کارکوونکو څخه د ټاکنو په اړه معلومات تر لاسه کړي، ۲۶ سلنه بیا وایي، چې هیڅکله یې د ټاکنیزو کارکوونکو څخه معلومات ندي ترلاسه کړي. په ځانګړي توګه د ۳۷ سلنې په شاوخوا کې په افغانستان کې له مرکزي حوزې څخه ځواب ویونکو ویلي، چې هیڅکله یې له ټاکنیزو کارکوونکو څخه د ټاکنو په اړه معلومات ندي تر لاسه کړي. په ملي کچې، ډېری د دې سروې له ځواب ویونکو څخه (۵۶،۸ سلنه) په تیر یو کال کې په کومه غونډه کې چې د ټاکنو په اړه وي ګډون ندی کړی. ډېری د سهیل ختیځ، شمال، ختیځو او لویدیځو حوزو څخه د ټاکنو په اړه غونډو کې ګډون کړی. د دې کسانو له منځه چې په داسې غونډو کې یې ګډون کړی ۶۴،۱ سلنه یې نارینه جوړوي.

د ځواب ویونکو په اند غوره او نور معلومات به په راتلونکي ټاکنو کې د دوی د رای ورکولو شونتیا زیاته کړي. زیاتره ځواب ویونکو (۶۱ سلنې) ویلي، که چېرې دوی د ټاکنیز بهیر او نوماندانو په اړه ښه معلومات لرلی، نو د دوی د رای ورکولو شونتیا به زیاته وای. د افغانستان په جنوبي زون کې د سروې ځواب ویونکي دوه زړې (متردد) وو، چې که چېرې دوی د ټاکنیز بهیر او نوماندانو په اړه معلومات ترلاسه کړي نو څه به وکړي؟ د دې سروې ځواب ویونکي د افغانستان په سهیل حوزې کې په دې اړه په خاص ډول مطمئنه نه وو چې که چیرې د راتلونکو ټاکنو په اړه معلومات تر لاسه کړي رایه به ورکړي، (۵۱ سلنې) ځواب ویونکو ویلي، که چېرې دوی د ټاکنیز بهیر او نوماندانو په اړه ښه معلومات لرلی، نو د دوی د رای ورکولو شونتیا به زیاته وی. د زیاتره ځواب ویونکو (۶۷,۲سلنه) په اند د دویم پړاو ټاکنو د رایو تفتیش مرسته وکړه، څو د ولسمشریزو ټاکنو په پایلو باندې د خلکو باور زیات شي. سره له دې چې یوازې ۲۰،۷ سلنې ویلي، چې د رایو د تفتیش په اړه یې پوره معلومات تر لاسه کړي. له ۵۵،۵ سلنې ځواب ویونکو څخه ویلي دي، چې د رایو د تفتیش په اړه یې معلومات ترلاسه کړي، ۷۴ سلنې په اند چې نوموړي معلومات یې تر یوې کچې او یا ډېر ګټور وو او همدارنګه یوازې ۳،۱ سلنه فکر کوي، چې ترلاسه شوي معلومات هېڅ ګټور نه وو. هغه ځواب ویونکي، چې معلومات یې تر لاسه کړی تلویزیون او راډیو یې یو برابر اغیزمنې سرچینې په توګه موندلې. سره له دې چې د ځواب ویونکو ډېری په کلیوالو سیمو کې ۴۵،۴ سلنه راډیو یې

د دې ډول معلوماتو لپاره د اغیزمنې سرچینې په توګه یاده کړې، په ورته وخت کې ښاري سیمو کې له ځواب ویونکو څخه ۶۴،۷ سلنې ویلي، چې تلویزیون د معلوماتو تر ټولو اغیزمنه سرچینه وه.

د ځواب ویونکو ورته سلنې د ټاکنو د خپلواک کمیسیون له دندو سره هم آشنایي درلوده او هم یې نه درلوده، په داسې حال کې چې د افغانستان د سهیل ختیځې حوزې ځواب ویونکو د ټاکنو د خپلواک کمیسیون له نقشونو سره ډېره او د شمال حوزې ځواب ویونکو لږه بلدتیا درلوده. د ټاکنو د خپلواک کمیسیون له دندو سره د ځواب ویونکو بلدتیا نظر د هغوی تحصیلاتو د کچې په لوړېدو سره پورته تله. ۶۱،۷ سلنې ځواب ویونکو څخه چې د پوهنتون په کچې یې زده کړې درلودې ویل چې د ټاکنو د خپلواک کمیسیون له فعالیتونو سره بلدتیا لري، په داسې حال کې چې ۳۹ سلنه ځواب ویونکي چې هیڅکله ښوونځي ته ندي تللي د ټاکنو د خپلواک کمیسیون له فعالیتونو سره اشنایي درلوده

حتې د ځواب ویونکو لږې برخې (۳۲سلنې) ویلي چې د ټاکنیزو شکایتونو د اوریدو خپلواک کمیسیون له فعالیتونو سره اشنایي لري. که څه هم د ځواب ویونکو دا شمیره د ۱۳۹۱ کال د ځواب ویونکو څخه چې د ټاکنیزو شکایتونو د اوریدو خپلواک کمیسیون له فعالیتونو سره اشنایي لري دوه برابره ده. د هغو مرکه شویو له منځه چې ویلي وو چې د ټاکنو د خپلواک کمیسیون له فعالیتونو او د ټاکنیزو شکایتونو د اوریدو خپلواک کمیسیون له فعالیتونو سره اشنایي لري ۶۰ سلنې یې ډیرې ځواب ویونکو ویلي چې ۱۳۹۳ کال ټاکنو کې د دواړو کمیسیونونو له کار څخه راضي دي. که څه هم د هېواد له لویدیځې حوزې ځواب ویونکو ویلي چې په ۱۳۹۳ کال ټاکنو کې د دواړو کمیسیونونو له کار څخه ناراضه دي. د ۱۳۹۳ کال په ټاکنو کې له ټولو ځواب ویونکو څخه یوازې ۷ سلنه د شکایت پاڼې درجولو تجربه درلوده، چې ډیرې یې په لویدیځې حوزې کې وو او ۱۳،۲ سلنه یې رپوټ ورکړی چې شکایت یې درج کړی دی. د هغو کسانو له ډلې چې شکایت پاڼه یې درج کړې وه، ۵۹،۹ سلنې یې ویلي چې شکایاتو ته یې رسیدنه شوې حال دا چې بیا ۳۶،۵ سلنه وایي چې شکایتونو ته یې رسېدنه نده شوې.

د دې نظر پوښتنې ډیرې ځواب ویونکو ویلي چې هغوی لږ تر لږه د مختلفو دولتي ارګانونو د دندو او مسولیتونو په اړه معلومات لري. ۶۲ سلنې ویلي چې هغو د ولسمشر د نقش په اړه پوهیږي او د پرتلې وړ اکثریت ډاډه وو چې د افغانستان د ملي امنیتي ځواکونو د نقش په اړه پوهیږي. نږدې نیمایي ځواب ویونکو ویلي چې د اجرایوي رییس د رول په اړه چې د ډاکټر عبدالله لخوا ترسره کیږي، پوهیږي. ځواب ویونکي د ټاکنو د خپلواک کمیسیون د فعالیتونو او د ټاکنیزو شکایتونو د اوریدو خپلواک کمیسیون د نقشونو په اړه لږ ډاډ درلود، مګر ډیرې برخه یې لږ تر لږه څه ناڅه موافق وو چې کافي پوهه لري (په ترتیب ۷۷ سلنه او ۷۲ سلنه) ډیرې ځواب ویونکي (۵۵سلنه) وایي چې هغوی په پارلمان کې د خپلو ولایتي استازو د کړنو په اړه لږ تر لږه څه نا څه پوهیږي. د بلدیت اندازه د حوزو په کچه یو څه اندازه توپیر لري، د افغانستان د سهیل ختیځې حوزې څخه ځواب ویونکو د تفاهم د لوړې کچې او د مرکزي حوزې د ټیټې کچې راپور ورکړې. د سروې نږدې نیمایي ځواب ویونکو(۵۱سلنې) ویلي دي چې هغوی د پارلمان د مقننه کړنو په اړه بشپړ معلومات نلري. حتی هغه ځواب ویونکي چې لوړې زده کړې او ښه عواید یې هم درلودل، دوی پخپله رپوټ ندی ورکړې او نه یې د دې موضوعاتو په اړه معلومات درلودل.

